مسیر
ورځپانه
www.maseerdaily.af
نوی لید، نوی مزل
یکشنبه د ۱۳۹۸ د کب څلورمه | د ۲۰۲۰ د فبروري ۲۳مه | ۵۱۸مه ګڼه

# د څلوېښت کلن ناورین د پای ځرک؛

## د تاوتریخوالي کموالی د ولس او نړیوالو له هرکلي سره مخ شوی دی



۳

---

د اورکم لومړی ورځ، خوښی او اندېښنې
۲ مخ

افغان سوله او ډراماتیک پرمختګونه
۲ مخ

د غني حکومت به پنځه کاله دوام وکړي؟
۳ مخ

---

### قریشي: د امریکا- طالبانو تړون به د پاکستان په حضور کې لاسلیک کېږي

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي ویلي چې په افغانستان کې د سولې او ثبات په تړاو د پاکستان هلو ځلو پایله ورکړې ده.
قریشي په یوه اعلامیه کې ویلي چې د پاکستان له هلو ځلو پرته دا ناممکنه وه چې طالبان دې د سولې خبرو ته حاضر شي او امریکا ته دې قناعت ورکړل شي چې دا خبرې بیا پیل کړي.
نوموړي تېره ورځ په یوه اعلامیه کې ویلي چې د طالبانو او امریکا تر منځ تړون به د پاکستان په موجودیت کې لاسلیک کېږي، ځکه چې له پاکستان پرته دا کار ناممکن و. قریشي دغه راز زیاته کړې چې له دې وروسته به د بین الافغاني مذاکراتو د پیلولو په اړه هم هلې ځلې وشي.
شاه محمود قریشي دا خبرې داسې مهال کوي چې تر دې وړاندې پر پاکستان د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې له خوا نیوکې شوې چې په خپله خاوره کې یې تروریستي ډلو ته پټنځایونه ورکړي او دغه راز د افغان سولې په پروسه کې هم رښتینی نه دی. په ورته وخت کې د امریکا او طالبانو تر منځ د تاوتریخوالي د کمولو اونۍ پیل شوې چې په لومړۍ ورځ یې تر ډېره بریدونه او نښتې کمې وې.
ولسمشر غني هم ویلي چې افغان ځواکونو ته یې لارښوونه کړې چې په دې موده کې پر طالبانو بریدونه ونه کړي. که د سولې اونۍ کامیابه ختمه شي، بله شنبه (فبروري۲۹) به د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې تړون لاسلیک شي. ولسمشر غني د تاوتریخوالي د کمولو اقدام د سولې او اوربند پر لوري یو مهم ګام بللی دی.

---

### تېر میلادي کال د جګړې له کبله تر لسو زرو ډېرو ملکي افغانانو ته مرګ ژوبله اوښتې



۲ مخ

---

پوهنتون
۴ مخ


### پیام د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

د دې موسسې اداره وايي، د تضمین کیفیت لومړی پړاو یې په بریالۍ توګه سرته رسولی او هیلمن دي چې دوه پاتې پړاوونه به هم په ښه ډول سرته ورسوي او له هغه وروسته به د ماسترۍ پروګرام پیل کړي.



---

### کرنې ریاست: په میدان وردګو کې د ۸۴ میلیونو افغانیو په لګښت شپږ پروژې ګټې اخیستنې ته سپارل شوې



د میدان وردګو د کرنې ریاست چارواکو ویلي، د دغه ولایت په مرکز او چک ولسوالۍ کې د اوبولګولو شپږ پروژې ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.
د میدان وردګو د کرنې او مالدارۍ رییس ولید احمد تسل ویلي، چې د اوبولګولو دغه پروژې د دغه ولایت په مرکز میدان‌ښار او دغه راز چک ولسوالۍ کې د ۸۴ میلیونو افغانیو په لګښت پلې شوې دي. د تسل په خبره، په دغو پروژو کې د میدان وردګو ولایت مرکز میدان‌ښار اړوند د نږدې اوو کیلومترو په اوږدوالي د الو ویاله، د څه باندې پنځو کیلومترو په اوږدوالي د اسپ ویاله او د ۱۹۰۰ مترو په اوږدوالي د یتیمکه ویاله شامله ده او دغه راز د دغه ولایت د چک ولسوالۍ اړوند د څه باندې دوه نیم کیلومترو په اوږدوالي د خیر ویاله، د نږدې دوو کیلومترو په اوږدوالي د سفېد جوی ویاله او د ۱۷۴۲ مترو په اوږدوالي د سید باري کانال شامل دی.

---

### میلر: روند کاهش خشونت، فرصت بهتر است که برای آتش بس درازمدت و تامین صلح زمینه فراهم گردد



جنرال سکات میلر قوماندان عمومی نیروهای امریکایی و ناتو در افغانستان، آرزومند است که مدت کاهش خشونت تمدید شود.
نامبرده این اظهارات را دیروز در مقر قوماندانی عمومی ناتو در نشست خبری، با اسدالله خالد سرپرست وزارت دفاع ملی و سرپرست وزارت امور داخله در کابل بیان کرده است.
وی افزوده است که امروز آغاز دورۀ امتحانی کاهش خشونت است، همه جوانب به توافق رسیدند که در این مدت خشونت را کاهش میدهند.
جنرال میلر گفته است که روند کاهش خشونت، فرصت بهتر است که برای آتش بس درازمدت و تامین صلح زمینه فراهم گردد. قوماندان ناتو افزوده است که تمام جوانب باید در این مدت مسئولیت های خود را به شکل درست انجام دهند.
نامبرده افزوده است: «من به نمایندگی ماموریت قاطع مربوط بخش ناتو، اطمینان میدهم که در مدت کاهش خشونت، ما تمام مسئولیت های خود را به طور جدی انجام میدهیم.»
جنرال سکات میلر ابراز امیدواری کرده است که طالبان نیز در این مدت مسئولیت های خود را به گونۀ درست انجام دهند.
به گفتۀ وی، در رابطه به تطبیق مسئولیت ها و تعهدات شان، نیروهای امریکایی و افغان عملیات خود را متوقف کرده و در حالت دفاعی قرار دارند.
قوماندان ناتو همچنان گفته است که آنها با نیروهای افغان شانه به شانه ایستاده اند و به همکاری ها و حمایت خود ادامه خواهند داد.

---

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ

Aksos
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریځ

### د اورکم لومړۍ ورځ، خوښۍ او اندېښنې

پرون د اورکم اونۍ لومړۍ ورځ وه چې په ټول هېواد کې په ښه ډول تېره شوه. یوازې په ځینو ولایتونو کې د وړو نښتو رپوټونه ورکړل شوي چې په هغو کې هم له نېکه مرغه مرګ ژوبله نه ده رامنځ ته شوې. دواړه اړخونه په دفاعي حالت کې دي او یو پر بل بریدونه نه کوي. دا ګام د خلکو له پراخ هرکلي سره مخ شوی او له یوې اونۍ د زیات دوام غوښتنه یې کوي. دوه کاله وړاندې له درې ورځني اوربند وروسته دا لومړی ځل دی چې پر اورکم توافق شوی او ټول اړخونه ژمن دي چې پر توافق به عمل کوي. ټاکل شوې د همدې اونۍ په پای کې د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې هوکړه لیک لاسلیک شي. که په دې اونۍ کې د اورکم توافق په ښه ډول عملي شي، نو له شک پرته چې دا به یو بې ساری پرمختګ وي چې ورسره به د سولې هوکړه لیک دا پرمختګ لا زیات مهم او ګټور کړي.

داسې ښکاري چې د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې هوکړه لیک به له کومې ستونزې پرته لاسلیک شي، خو بین الافغاني خبرو ته لا هم زیاتې اندېښنې شته. دولتي لوری پاشل کېږي، په حکومت کې د ننه او له حکومت څخه د باندې سیاسي اختلافات په بې ساري ډول زیات شوي دي. پرون د ثبات او همپالنې ټیم د سرپل لپاره خپل نوی والي معرفي کړ، د پنجشیر والي اعلان وکړ چې نور د اشرف غني حکم نه مني او د عبدالله ملاتړ کوي. په بغلان کې هم د والي پر سر لانجې وې او ښار نظامي بڼه خپله کړې وه. وېره ده چې په راتلونکو ورځو کې به دا حالت لا زیات ترینګلی شي. که له یوه اړخه اورکم او د سولې په برخه کې خلک پرمختګونو ته خوښ دي، له بله اړخه د ټاکنو د پایلو د اعلان له امله رامنځ ته شوې لانجې خلک اندېښمن کړي دي. دا داسې وخت و چې نه یوازې دا اختلافات باید نه وی، بلکې حکومت له سیاسي ګوندونو او سیاستوالو سره په ګډه یو داسې واحد دریځ خپل کړی وی، چې د سولې له راتلونکو بین الافغاني خبرو او د ریښتینې سولې له راتګ سره یې مرسته کړې وی. پکار وه چې د مسخرو او نامشروع ټاکنو پایله په دې وخت کې نه وی اعلان شوې، اوس باید حکومت، سیاسي ګوندونه، سیاستوال، مدني ټولنې او نور فعالین سره ناست وی، د بین الافغاني خبرو لپاره یې ګډ پلاوی ټاکلی وی، پر دې یې بحث او خبرې اترې کړې وی چې څه ډول اورکم پر اوربند اړولی او دوام ورکولی شي. دوی باید سره له اوسه پر ټولو هغو ننګونو او ګواښونو بحث کړی وی او حللارې یې ورته موندلې وی چې د بین الافغاني خبرو بریا ننګوي او له ستونزو سره یې مخ کوي.

اوس هم وخت دی؛ پکار ده چې د ټاکنو مسخره لوبه ختمه شي او نور ټول پر واحد دریځ را ټول شي، پر سوله تمرکز وکړي او د افغانستان د بقا او د سولې دا چانس ضایع نه کړي.

# افغان سوله او ډراماټیک پرمختګونه

لیکنه: ذاکر جلالي

له اوږدو انتظارونو، ځنډونو او خنډونو وروسته، بالاخره د فبروري په ۲۱مه طالبانو او د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت په جلا جلا اعلامیو کې د اورکم خبر ورکړ. دا لاسته‌راوړنه د هغو یوولس پړاویزه مذاکراتو په پایله کې ممکنه شوه چې د ۲۰۱۸ له سپټمبر راهیسې د خلیلزاد په مشرۍ د امریکایي ټیم او د ملا برادر تر څارنې لاندې په دوحه کې د طالبانو د سیاسي دفتر مذاکراتو ټیم تر منځ وشول. دا اسانه خبرې نه وې. د طالبانو د غوړځنګ مرستیال ملا سراج الدین حقاني په نیویارک ټایمز کې په خپله مقاله کې لیکلي چې کله یې استازو په ۲۰۱۸ ز کال کې له امریکایي لوري سره خبرې شروع کولې، دا چې مذاکرات به کومه پایله ورکړي، باور یې صفر ته نږدې و. په همدې ډول که څه هم د دغو خبرو پایلو او سولې ته د ډېرو افغانانو سترګې وې؛ خو هېچا باور نه درلود چې دا خبرې به رښتیا هم پایله ولري.

طالبانو په خپله اعلامیه کې لیکلي چې د توافقنامې د لاسلیک لپاره «مناسبه فضا» برابروي چې هدف یې اورکم دی. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کې راغلي چې دواړه لوري په دوحه کې دې تفاهم ته رسېدلي، چې په ټول افغانستان کې به تاوتریخوالی کموي. په دغه اعلامیه کې دا هم ویل شوي چې د فبروري په ۲۹مه به له طالبانو سره هوکړه‌لیک لاسلیک کېږي. د طالبانو پوځي کمېسیون په اعلامیه کې لیکل شوي چې د دوی له خوا به پر ولایتي مرکزونو، د بهرنیانو پر ټولو اډو او په کابل کې د افغان حکومت پر فرقو، غونډونو او قول اردوګانو باندې بریدونه نه کوي. همدا راز به افغان حکومت او بهرنیان د طالبانو پر مرکزونو ډرون، چاپې او راکټي بریدونه نه کوي.

ملا سراج الدین حقاني په خپله لیکنه کې وايي: «ان کله چې ولسمشر ټرمپ خبرې وځنډولې، موږ بیا هم د سولې دروازه پرانیستې وساتله، ځکه چې افغانان تر بل هر چا د جګړې له دوامه زیانمنېږي. د سولې هېڅ هوکړه له دومره سختو او شدیدو خبرو وروسته له متقابل جوړجاړي پرته نه شي تر لاسه کېدای.»

د طالبانو او امریکایانو تر منځ خبرې له ډېرو کړېچونو او پېچومو تېرې شوې. سره له دې چې د بې‌باوریو تشه ډېر پراخه وه؛ خو بیا هم دواړه لوري وتوانېدل چې اوس په ډاډ سره رسماً ووایي چې د فبروري په ۲۹مه به هوکړه لاسلیک کوي. یوازې د بې‌باورۍ خنډ هم نه و. په امریکا کې د ننه د دغو خبرو پر وړاندې د جګړه‌پلوو نظامیانو او استخباراتو مخالفت د پام وړ و. په افغانستان کې ولسمشر غني په دغو خبرو کې رول نه درلود، ځکه یې مخالفت کاوه. د ډاکټر غني اساسي اندېښنه دا وه چې د سولې هره پرېکړه به د ده په برخلیک کې کېږي؛ ځکه یې په دغسې حساس وخت کې د انتخاباتو کیسې ته لومړیتوب ورکړ.

په هر صورت، دغه خبرې اوس وروستۍ شوې ښکاري او که هر څه له پلان سره سم پرمخ ولاړشي، تمه ده چې په یاده نېټه به په دوحه کې هوکړه لاسلیک شي.

اوس مهمه پوښتنه دا ده چې د هوکړې له لاسلیک وروسته به بین الافغاني خبرې څنګه کېږي؟ د سراج الدین حقاني په لیکنه کې هڅه شوې چې دغو اندېښنو ته ځواب وویل شي. حقاني لیکي چې د بهرنیانو له وتلو وروسته، نظام د افغانانو خپلمنځي تفاهم او اجماع پورې تړلی دی. د طالبانو مرستیال لیکلي: «موږ ژمن یو چې له نورو لوریو سره د مشورې او ریښتیني درناوي له لارې کار وکړو چې پر یوه نوي او ټول‌شموله جوړښت باندې سلا شو چې د هر افغان غږ په کې منعکس شوی وي او هېڅ افغان ځان بهر ونه ګڼي.»

د سراج الدین حقاني لیکنه په ډېر یوه مهم پړاو کې خپره شوه او ډېرو مهمو اندېښنو ته پکې د ځواب ورکولو هڅه شوې ده. که څه هم طالبانو له پخوا دغه څرګندونې درلودې؛ خو دا چې د ملا سراج الدین حقاني له ادرسه وویل شوې، دا مهمه وه او خپله مانا لري.

اوس مسئله دا ده چې ایا افغان حکومت راتلونکي پړاو ته چمتو دی؟ د افغان سولې دومره ډراماټیکو پرمختګونو وړاندوینه افغان حکومت کړې وه؟ که د طالبانو مسئله ځنډې ته کړو، افغان حکومت تر بل هر وخت په ملي او حکومتي کچه وېشلی او پاشلی دی. د سولې په تړاو د ډاکټر غني د ټیم او ویاندویانو الفاظ ډېر توند او ترخه شوي. هره ورځ د سرو کرښو یادولو هڅه کېږي. د ده او سیاسیونو تر منځ اختلافات تر بل هر وخت زیات دي. د طالبانو او امریکایانو تر منځ چې هوکړه لاسلیک شي، طالب پلاوی به چمتو وي او که ارګ او سیاستوال د لیستونو پر جوړولو او ردولو اخته وي، دا حالت به د طالب په ذهن کې د دغه حکومت وار دمخه ټیټ حیثیت څومره کمزوری کړي!

د سولې خبرو له پرمختګ سره د طالبانو په موقف ګیریو او څرګندونو کې نرمښت ښکاري. ښه بېلګه یې د سراج الدین حقاني لیکنه ده. ایا حکومت سره له دې چې د طالبانو په پرتله ډېر ظرفیتونه او ستېجونه په واک کې لري، دغسې هڅه کړې؟! د داووس او مونیخ په نړیوالو ناستو کې ډاکټر غني چې کوم الفاظ د خپلو حریفو سیاستوالو او طالب مشرانو پر وړاندې وکارول، د سولې د راتګ په تړاو د ده پر نیت شکونه څو برابره زیات کړل. د دغه حالت دوام د هېچا ان د خپله ډاکټر غني په ګټه نه دی. پکار ده چې د وخت حساسیت درک شي، د ماضي له خپسې راووځو او راتلونکي ته د واقعیتونو او بدلونونو په منلو سره روښانه لار ترسیم کړو. که نه پرمختګونه دومره چټک او ډراماټیک دي، چې ښایي بیا به د یوې ښې پرېکړې فرصت په لاس کې نه وي.

## د روغتیا نړیوال سازمان: د کرونا ویروس د مخنیوي لپاره باید نړیوالې هڅې چټکې شي



په ایران کې د کرونا ویروس له خپرېدو او پر دې ناروغۍ د اخته کسانو او قربانیانو د شمېر له زیاتوالي سره، د روغتیا نړیوال سازمان ویلي چې د دې ناروغۍ د مخنیوي موکه مخ په کمېدو ده.

دا په داسې حال کې ده چې په تازه پېښو کې په ایران کې د کرونا ویروس له امله څلور تنه مړه شوي او لږ تر لږه ۱۸ تنه نور پر دې ناروغۍ اخته شوي دي.

خو چینایي چارواکو ویلي چې په دغه هېواد کې پر دې ناروغۍ د اخته کسانو شمېر مخ په کمېدو دی.

د روغتیا نړیوال سازمان پر نړیوالو هېوادونو غږ کړی چې د دې ناروغۍ د پراختیا د مخنیوي او همدارنګه د نورو احتمالي ناروغانو د درملنې لپاره چمتووالی ونیسي.

د روغتیا نړیوال سازمان دغه څرګندونې داسې مهال دي چې چې تر اوسه په چین او نورو هېوادونو کې څه باندې ۷۷ زره کسان د کرونا پر ویروس اخته شوي دي.

دغه سازمان ویلي، د کرونا ویروس د مخنیوي موکه مخ په کمېدو ده او دغه ویروس کولای شي چې هر ځای ته خپور شي.

د روغتیا نړیوال سازمان رییس ټېډروس اډهانوم ګبرېسوس ویلي: «هغه تابیاوې چې چین او نورو هېوادونو نیولې، موږ ته یې له کرونا ویروس سره د مبارزې او د پراختیا د مخنیوي موکه راکړې. موږ له ټولو هېوادونو غواړو چې د دغه ویروس د خپرېدو د مخنیوي لپاره خپلو ژمنو ته دوام ورکړي او د هغه وخت لپاره دې چمتو وي چې دغه ویروس خلکو ته لېږدي.»

په ورته وخت کې د لبنان او کاناډا چارواکو هم ویلي، چې دوو تنو چې له ایرانه دغو هېوادونو ته سفر کړی او د کرونا پر ویروس اخته شوي دي.

په جنوبي کوریا او همدارنګه ایټالیا کې هم پر کوویډ نولس یا کرونا ناروغۍ د ځینو اخته کسانو شمېر زیاتوالی موندلی دی.

د دغه سازمان رییس زیاته کړې: «هغه پېښې مو چې په نړۍ کې لیدلې، که څه هم لږ دي؛ خو دا چې په ووهان او چین پورې تړاو نه درلود، د اندېښنې وړ دي.»

بلخوا د روغتیا نړیوال سازمان د ویروسي ناروغیو پر وړاندې د چمتووالي مسوول سیلوي بریانډ هم ویلي: «په واقعیت کې وضعیت د بدلون په حال کې دی. نه دا چې یوازې د پېښو شمېر زیاتوالی مومي، بلکې په بېلابېلو برخو کې مو د ویروس د لېږد متفاوتې لارې لیدلې دي.»

له دې ټولو سره سره، د روغتیا نړیوال سازمان او ملګرو ملتونو سازمان، د دغه ویروس د مخنیوي لپاره د چین هڅې ستایلي او هیله لري چې دغه مبارزه پایله ولري. د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوتریش ویلي: «فکر نه کوم چې دا ویروس دې له کنټروله بهر شي. فکر کوم چې دا یوه ستره ستونزه ده چې د چین یو ستر ځواب غواړي.»

## یوناما: تېر میلادي کال د جګړې له کبله تر لسو زرو ډېرو ملکي افغانانو ته مرګ ژوبله اوښتې

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر یا یوناما په خپل کلني راپور کې ویلي چې په تېر میلادي کال کې یوځل بیا په افغانستان کې تر لسو زرو ډېرو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

په کابل کې د یوناما له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، د افغانستان په جګړه کې ښکېلو ډلو په ۲۰۱۹ میلادي کال کې تر ۱۰ زرو ډېر ملکیان وژلي او ټپیان کړي دي. د ملګرو ملتونو د یوه نوي راپور له مخې، دا په روانه جګړه کې ملکیانو ته په لوړه کچه زیان په ډاګه کوي.

سرچینې زیاته کړې، نوي راپور د ۳۴۰۳ ملکي وګړو وژل او د ۶۹۸۹ ټپي کېدل ثبت کړي چې ډېری ملکي تلفات د دولت ضد عناصرو له خوا اوښتي دي.

یوناما ویلي، دا په پرله پسې ډول شپږم کال دی چې د ملکي تلفاتو شمېر له ۱۰ زرو اوړي.

په خبرپاڼه کې راغلي، ملکي وګړو ته په لوړه کچه د پرله پسې اوښتي زیان سربېره، د ۲۰۱۹ میلادي کال ملکي تلفاتو ارقام خورا ناوړه پړاو ته رسېدلي.

یوناما ویلي، له یوې لسیزې راهیسې په سیستماتیک ډول پر ملکي وګړو د جګړې د اغېزو له مستندولو وروسته، ملګرو ملتونو ومونده چې په ۲۰۱۹ میلادي کال کې د ملکي تلفاتو شمېر له ۱۰ زرو اوښتی دی.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندوی پلاوي یا یوناما مشر تدامیچي یاماموتو ویلي: «په افغانستان کې نږدې هېڅ یو ملکي وګړی د روان تاوتریخوالي له زیانونو خوندي نه دی پاتې شوی.»

نوموړي زیاته کړې: «لکه څرنګه چې سوله اوږدمهال ته اړتیا لري او د سولې هڅې روانې دي، د ملکي وګړو ژوند باید خوندي شي او د ټولو خواوو لپاره اړینه ده چې د جګړې درولو لپاره فرصت له لاسه ورنه کړي.»

په نوي راپور کې شامل ارقام چې د یوناما او ملګرو ملتونو د بشري حقونو دفتر له خوا په ګډه خپاره شوي، د تېر کال په پرتله پنځه سلنه کمښت ښيي چې په اصل کې د داعش له لوري ملکي تلفات کم شوي دي.

سرچینې زیاته کړې، د نورو جنګي ډلو له امله د ملکي تلفاتو کچه لوړه شوې، په ځانګړې توګه د طالبانو له لوري ۲۱ سلنه او د نړیوالو نظامي ځواکونو له لوري ۱۸ سلنه زیاتوالی راغلی چې په عمده ډول د چاودېدونکو توکو د چاودنو او هوایي بریدونو د زیاتوالي له امله دي.

په خبرپاڼه کې راغلي، سربېره پر دې چې د ۲۰۱۹ میلادي کال په جریان کې ملکي تلفات په خورا دقیقه توګه مستند شوي، راپور یو لړ سپارښتنې لري او په جګړه کې ښکېلو اړخونو ته ور په یادوي چې په قصدي ډول د ملکي وګړو یا ملکي تاسیساتو په نښه کول له نړیوال بشردوستانه قانون څخه جدي سرغړونه ده چې جنګي جرم بلل کېږي.

# د غني حکومت به پنځه کاله دوام وکړي؟

لیکنه: زمريالی اباسين

د ټولو په ذهنونو کې يوازې يوه پوښتنه ده: اخر څنګه په ناڅاپه او ډراماټيکه توګه د ولسمشرۍ ټاکنو وروستۍ پايلې اعلان شوې؟ ځواب يې بيا هم د امريکا د سياستونو په محور کې مونډلی شو. امريکا ولې بايد غني ته له پنځه مياشتنيو جنجالي ټاکنو وروسته د ولسمشر کېدو لار پرانيستې وای؟

د امريکا او طالب استازو تر منځ له شپاړس مياشتنيو مذاکراتو (د ۲۰۱۸ ز کال د سپټمبر له ۲۸م د ۲۰۲۰ ز کال تر فبروري) وروسته دواړو لورو پر اووه ورځني جنګ بنديز يا د تاوتريخوالي کمولو «Truce Agreement» هوکړه وکړه. هغه هوکړه چې د دواړو لوريو تر منځ د سترې هوکړې د مسودې لاسليک او اجرايي کېدو ته لار پرانيزي او ورپسې به ژر د افغانانو خپلمنځی مخامخ خبرې پيل شي. په افغانستان کې د ملي يووالي حکومت د نيمايي (اجراييه رياست) په ګډون، ټولو سياسيونو نږدې يو دريځ ونيو، خو په ارګ کې د ټاکنو پر نتايجو ټينګ ولاړ د غني ټيم له ډېرو مواردو سره مخالفه جبهه کلکله وساتله او له طالبانو سره خبرې يې تر دې حده مشروطې کړې چې اوربند او د حکومت په مالکيت او رهبرۍ له طالب لوري سره خبرې يې سرې کړښې وبللې. امريکايانو له تېر يو کال، په ځانګړې توګه وروستيو پنځو مياشتو راهيسې د ټاکنو پروسه ټکنۍ کوله او دغه پروسه يې چې له يوې خوا د سولې مذاکراتو او بل لور ته د منفي تبليغاتو له امله سخته ټکنۍ شوه او په بې ساري ډول پکې د خلکو ګډون کمرنګی و، لا ټکنۍ او له سختو پېچومو سره مخ کړه. خو غني او ټيم يې په هېڅ صورت حاضر نشول چې واک ته د بيا رسېدو پنځه کلنې هلې ځلې يې بې پايلې پاتې شي. هر څه يې منل، خو يوازې دويم پړاو ولسمشري او ارګ پرېښودل يې اصلي سره کرښه وه چې په مقابل کې يې هر څه ته ښه راغلاست ويل. همداسې وشول. پايلې اعلان شوې او دا دی غني اوس د دويم ځل لپاره د ولسمشر په توګه د لوړې مراسمو تر سره کولو ته چمتووالی نيسي، که څه هم شاوخوا سياسي فضا په شدت سره متشنجه ښکاري. د لوړې مراسم هم پر ځای کېدونکي دي او اشرف غني د ډېرو توقعاتو خلاف د واک پر ټکنۍ ګدۍ تکيه وهي. خو پوښتنه دا ده چې دا کار څنګه په دې خورا بيړه او ناڅاپي توګه ممکن شو؟ پر وروستيو څو نړيوالو ناستو تم کيږو.

د غني د ټيم نېکمرغي دا وه چې د نوي ميلادي کال په لومړيو دوو مياشتو کې درې مهمې نړيوالې ناستې (داووس، ناټو سرمشريزه او مونيخ کنفرانس) جوړې شوې. دا درې واړه ناستې غني ته طلايي چانس و چې له تېر کابو يو کال راهيسې انزوا ته نږدې شوې حالت بدل کړي. نړيوالو ته يې په دې ناستو کې خپل دريځ او استدلال وړاندې کړ او په مقابل کې يې سياسي ملاتړ راجلب کړ. دا اسانه کار نه و.

ولسمشر غني د داووس ناستې (د جنوري له ۲۱ تر ۲۴) په بهير او څنډو کې د امريکا پر ولسمشر ډونالډ ټرمپ سربېره، له څو نړيوالو مشرانو سره وليدل او پر مهمو مسايلو د خبرو فرصت برابر شو. غني له ټرمپ سره په خبرو کې د امريکا د هڅو ملاتړ وکړ او د هر راز همکارۍ ډاډ يې ورکړ. په ورته وخت کې يې خپلې غوښتنې هم ورسره په خورا ډيپلوماټيکه لهجه شريکې کړې چې تر ټولو مهمه يې له طالبانو سره د خبرو لپاره هر راز چمتووالی ښودل و. هغه ټرمپ ته وويل چې له طالبانو سره خبرې يې د سياستونو اصلي محور دی او په دې کار کې به ناغېړي نه کوي. ډېرې خبرې يې د ټرمپ د خوښۍ او رضايت خپلولو لپاره وکړې لکه: «موږ ته ثبات او ټولنيزه نېکمرغي راوستل د امريکا مسووليت نه دی. دا زموږ خپل مسووليت دی. افغان امنيتي ځواکونه له خپلې خاورې دفاع کولی شي، خو دا طالبان دي چې په عمل کې وښيي چې په رښتيا سوله غواړي او که نه؟» او دا کټ مټ هغه خبرې وې چې ټرمپ پخوا د افغانستان په اړه تکرار کړې وې. غني هم موضوع له همدې ځايه راونيوله.

د همدې ناستې په ترڅ کې يې د پاکستان له لومړي وزير عمران خان سره وليدل او د پاکستان ضد سختې، خو منطقي خبرې يې وکړې. خان له ولسمشر غني سره د يو خبري فورم په ترڅ کې په پاکستان کې د ترهګرو بيا په ځانګړې توګه د حقاني شبکې موجوديت رد کړ. غني په ځواب کې وويل: «په پاکستان کې د حقاني شبکې د موجوديت ردول داسې دي لکه څوک چې ووايي څمکه له لمر شاوخوا نه څرخيږي. د ترهګرۍ په تړاو د اسلام اباد په دريځ کې بدلون محسوس نه دی. که ښاغلی لومړی وزير [عمران خان] په خپله خاوره کې د حقاني شبکې موجوديت ردوي، نو بيا ولې يې د زندانيانو د ازادېدو امتياز اخلې؟» دغه فورم او له ټرمپ او نورو نړيوالو رهبرانو سره د ليدنو په ترڅ ميدان غني تر ډېر په خپله ګټه وڅرخاوه او ذهنيتونه يې يو څه بدل کړل.

ورپسې په بروکسل کې د ناټو سرمشريزه جوړه شوه او بيا د فبروري په نيمايي کې د مونيخ نړيوال کنفرانس و چې د دواړو ناستو په اجنډا کې مهمې برخې افغانستان ته ځانګړې شوې وې. دلته هم يا غني يا د هغه د ټيم غړيو د کابل د سياسي او نظامي دريځ په هکله رغوونکی تصوير وړاندې کړ. په بروکسل کې غړيو هېوادونو د افغان امنيتي ځواکونو او تر يوه بريده د کابل ملاتړ وکړ او زياته برخه يې د سولې او له طالبانو سره پر جوړجاړي ورټوله وه. د مونيخ نړيوال کنفرانس د پيل په درشل کې د امريکا بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو له ولسمشر غني سره ټيليفوني خبرې وکړې او د غني دريځ بيا هم خورا ډيپلوماټيک و. غني د يو ټويټ په کولو سره وويل، «د امريکا بهرنيو چارو وزير د طالبانو له لوري د تاوتريخوالي کچې د دوامداره کمولو د طرحې په هکله خبر راکړ. د دې پرمختګ هرکلی کوو. زموږ ګډ دريځ ګټورې پايلې ته نږدې شوی دی.» ورپسې بيا د مونيخ ناسته او د دې ناستې په څنډو کې غني مهم مسايل نړيوالو ته وړاندې کړل او امريکايانو دغه وضعيت ښه درک کاوه. غني په امريکا او دغه راز نړيوال سټېج کې کمرنګی شوی دريځ يو ځل بيا روښانه کړ او د امريکا د بهرنيو او دفاع وزيرانو او په افغانستان کې د امريکايي او ناټو عمومي قومندان جنرال سکاټ مېلر سربېره يې د افغان سولې لپاره له ځانګړي استازي زلمي خليلزاد سره هم وليدل او د سولې پروسې په څرنګوالي يې د هغو غوښتنې ومنلې.

همدغه ليدنې او خبرې اترې وې چې د افغانستان د ټاکنو اعلان ته يې زمينه برابره کړه او په مقابل کې يې غني د امريکا د سولې له نقشې سره وپېيل شو. امريکا له يوې خوا له طالبانو سره پر اووه ورځني جنګ بنديز او بل لور ته له کابل سره د ولسمشرۍ ټاکنو په اعلان هوکړه وکړه او د دواړو افغان لوريو پر وړاندې يې نرمښت وښود. دا نرمښت مشروط وي: طالبان به له حکومتي ټيم سره د يو افغان پلاوي په چوکاټ کې د ارګ تنظيم شوی لېست مني او ارګ به هم د تاوتريخوالي همدغه ډول او د بين الافغاني مذاکراتو دغه ډول مني او له طالبانو سره به د «غيردولتي ټيم» يا همه شمول ټيم په نوم خبرې پيلوي. طالبان غواړي ۵۰۰۰ بنديان يې خوشې شي چې ډېر يې د حکومت په زندانونو کې دي. دا هم غني منلې ده. د دې خبرې د اثبات لپاره د طالبانو د سياسي دفتر وياند سهيل شاهين او د دې ډلې مذاکراتي ټيم غړي مولوي عبدالسلام حنفي وروستۍ خبرې چې د رانقلولو وړ دي. ښاغلي شاهين ويلي: «د دوحې مذاکراتو د نهايي شوې هوکړې لاسليک لپاره اسلامي امارت دا شرط وړاندې کړی چې په افغانستان کې دواړه لوري مناسب چاپېريال رامنځ ته کړي. د سولې مذاکراتو په توافق ليک کې له نورو افغان جهتونو سره د مذاکراتو يادونه شوې، خو له کابل حکومت سره د خبرو هېڅ يادونه نه ده شوې.» دغه راز مولوي حنفي ويلي: «د نهايي شوې هوکړې له لاسليک سره سم به ۵۰۰۰ طالب زندانيان خوشې شي او بيا به د افغانانو خپلمنځنۍ خبرې پيل شي.»

دا ټولې غوښتنې کوچنۍ نه دي. امريکا بايد يو څه غني ته هم ورکړې وای او دا دي ور يې کړل. د اطلاعاتو پر بنسټ، د امريکا سرتېري به د کاميابو مذاکراتو په پايله کې له دوو تر څلورو کلونو له افغانستانه په بشپړه توګه وځي. خو د بين الافغاني تفاهم او مذاکرې لړۍ به ګرندۍ کوي څو د يو نوي احتمالي نظام جوړېدو او د طالبانو په بشپړه توګه سياسي کېدو ته زمينه برابره کړي. امريکايانو ته دوه انتخابونه د افغانستان د اوسني حکومت په اړه مخې ته ايښي وو: موقت حکومت او سرپرست حکومت؛ د غني اوسنی حکومت د پنځو نورو نه؛ بلکې د يوه يا دوو کلونو لپاره د بين الافغاني مطالحې تر ايجاد پورې دوام مونډلی شي. يا هم لومړۍ لس مياشتې؛ څو په واک کې د طالبانو شريکولو ټول سياسي چوکاټونه برابر شوي وي. دا لړۍ خپلې لوړې ژورې لري، خو مهمه دا ده چې کابل او واشنګټن په دې لړ کې يو بل ته نور څه ورکولی شي؟ دا مسايل به وخت لا ښه روښانه کړي. بله تر ټولو مهمه مسئله د بين الافغاني مذاکراتو پيل دی. دلته به هم نوي وړانديزونه وشي او په همدې موده کې به داخلي کشمکشونه لا ژور شي او د موقت حکومت جوړېدل به يو ځل بيا د بحث وړ جدي ربړه وي.

# د څلوېښت کلن ناورين د پای ځرک؛

## د تاوتريخوالي کموالی د ولس او نړيوالو له هرکلي سره مخ شوی دی



د امريکا او طالبانو تر منځ تر اوږدو خبرو وروسته، دواړو لورو د تاوتريخوالي د کمولو اووه ورځنۍ هوکړه پيل کړه. امريکا پر طالبانو شرط ايښی و، چې د سولې هوکړې د لاسليک لپاره بايد تر هر څه وړاندې يوه اوربند ته غاړه کېږدي، خو دغه ډلې اوربند ونه مانه او پر ځای يې په تاوتريخوالي کې د کمولو وړانديز وکړ. پرون شنبه اورکم پيل شوی دی او د روانې ميلادي مياشتې تر ۲۹مې پورې به دوام کوي. تر هغه وروسته به د امريکا او طالبانو تر منځ د سولې هوکړه لاسليک کېږي. د تاوتريخوالي د کمولو پيل د ولس او نړيوالو له تاوده هرکلي سره مخ شوی دی.

د شنبې ورځې له سهار وختي په افغانستان کې جګړې درېدلې دي. په ډېرو کمو ولايتونو کې امنيتي پېښې شوې دي او خال خال نښتې رامنځ ته شوې دي. امريکا، طالبانو او افغان حکومت ويلي چې دوی د اورکم د هوکړې عملي کول پيل کړي دي او د اوو ورځو لپاره به په جګړو او نښتو کې د پام وړ کموالی راځي. د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو د جمعې په ورځ وويل چې د تاوتريخوالي په کمولو کې به په يوه اونۍ کې د پام وړ ګامونه اخيستل کېږي. د ده په خبره، جګړې به کمېږي او د سولې هوکړې لپاره به عملي اقدامات پيلېږي.

بلخوا ولسمشر غني د جمعې په ماښام ولس ته په خپله وينا کې وويل چې سوله د هر افغان هيله ده او دوی خوښ دي چې د شنبې له ورځې به د تاوتريخوالي په کچه کې د پام وړ کموالی راځي. د ولسمشر غني په خبره، د افغان حکومت لپاره سوله لا هم لومړيتوب دی او طالبانو ته پکار ده چې د سولې لپاره له جګړو لاس واخلي او د افغانانو د سولې هيله پوره کړي. هغه همدا راز وويل چې د روان بهير ټول موارد به په منظمه توګه د افغان ځواکونو له لوري څارل کېږي او ټولې خواوې به دغه رامنځ ته شوی وضعيت کنټرولوي.

طالبانو هم بيا په خپل وار ويلي چې دوی په خپلو بريدونو کې د پام وړ کموالی راولي او خپلو جنګياليو ته يې سپارښتنه کړې چې د افغان ځواکونو پر اډو، نظامي سيمو، بهرنيو ځواکونو پر اډو او لويو لارو تهاجمي بريدونه ونه کړي او دغه راز يې له وسله والو طالبانو غوښتي چې ښارونو ته له تګ هم ډډه وکړي. طالبانو ويلي چې د دوی وسله وال به د تيارسې په حال کې وي او د بريد په صورت کې به په ځوابي اقدام لاس پورې کوي.

ملګرو ملتونو بيا په يوه اعلاميه کې د دغه اقدام هرکلی کړی دی. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه دفتر يا يوناما په يوه اعلاميه کې ويلي چې جګړو تېر کال په افغانستان کې لسو زرو ملکيانو ته مرګ ژوبله اړولې ده، نو ښکېلو لورو ته پکار ده چې ژر تر ژره له جګړو لاس واخلي او د سولې لار خپله کړي. د سرچينې په خبره، د تاوتريخوالي کمول د باور جوړولو او جګړې ختمولو، بين الافغاني مذاکراتو او دايمي سولې لپاره يو غوره اقدام دی.

پاکستان هم ژمنه کړې چې د افغانستان د سولې په پروسه کې به هر اړخيزه همکاري کوي او د روان رامنځ ته شوي وضعيت د ملاتړ خبره يې کړې ده. د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت ويلي چې د افغانستان د جګړې په پای ته رسولو کې پاکستان تل هڅه کړې ده او لا هم خپلو اقداماتو ته ژمن دی.

تېره ورځ په افغانستان کې د ناټو ځواکونو عمومي قومندان جنرال سکاټ مېلر بيا د افغانستان د کورنيو چارو او ملي دفاع وزارتونو له سرپرستانو سره کتلي دي. دوی ويلي چې افغان او بهرني ځواکونه له تهاجمي حالت وتلي او په دفاعي حالت کې دي.

له دې سره جوخت افغان سياسيون بيا رامنځ ته شوی حالت د باور فضا جوړولو لپاره مهم بولي او پر ټولو ښکېلو لورو غږ کوي چې د سولې او جګړو د پای لپاره رامنځ ته شوی فرصت ضايع نه کړي. پخوانی افغان نظامي شيرمحمد کريمي وايي، د جګړې د پای او سولې د دايمي راتګ لپاره غوره فرصت جوړ شوی دی او هېڅوک يې بايد ضايع نه کړي. د تاوتريخوالي کمولو بهير د عامو افغانانو له سخت هرکلي سره مخ شوی دی او په ډېرو لويو ښارونو کې يې په اتڼونو او لاريونونو هرکلی شوی دی. دوی دا ورځې د اختر له ورځو سره ورته بللې دي او له ښکېلو لورو يې غوښتي چې نور د جګړې لمن ټوله او سولې ته مخه کړي.

## د کتـــاب خبـرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

### هغه پنځه عوامل چې زرین قانون تتوي




**له تتېدو لرې کېدل**

تاسو به لیدلي وي چې «حرص» د هغو شیانو په لیست کې نه راځي چې زرین قانون تتوي. دا به جالبه وي، خصوصا له هغه وخته چې رسنیو په دې وروستیو کې د شرکتونو د رسوایۍ په اړه ډېرې خبرې کړې دي.

خو زه پر دې باور یم چې هر وخت یوازې پیسې انسان له اخلاقي پولو اړولو ته نه اړباسي. دا کېږي؛ خو دوی هغه واک یا قدرت غواړي چې پیسې یې له ځان سره راوړلای شي. دا واک که پر خلکو وي او که پر حالاتو یا دوی، هغه خوند غواړي چې په پیسو پېرل کېدای شي. که تاسو یو کس وګورئ چې له خپل صداقت او رښتینولۍ نه د پیسو لپاره تېرېږي، نو وبه وینئ چې دې کار ته به په هغو پنځو فکتورونو کې یوه هڅولې وي چې پاس مې تشریح کړل.

هر انسان ښایي د یوې لمسې له امله پر ارزښتونو معاملې ته لیواله شي؛ خو له کرښې اوښتل بیا انسان ته یوه ارامتیا ورکوي. ځینې وخت باید ورته په تمه شئ؛ خو دا حتما راځي. زه پر دې باور یم چې ښایي شل کاله وروسته به د مایک سلاوټر یو لوبغاړی ورته راشي او ورته وبه وایي چې د لیسې له لوبډلې لرې کولو یې په ژوند کې یو بدلون راوستلی او ښه انسان ترې جوړ شوی دی. یوه ورځ به سلاوټر د ایالت تر اتلولۍ په ډېره ارزښتمنه ډالۍ ونازول شي.

٦

**له زرین فرصته ګټه اخیستل**

زه داسې فکر کوم چې هر څوک د زرین فرصت په لټه وي. کاروباري خلک بیا دې فرصتونو ته ډېر زیات لیواله دي. څه وخت مخکې مې خپلې مرستیالې څېړونکې ته وویل چې د «زرین فرصت» لپاره انټرنټ ولټوي.

هغې راته وویل چې ګوګل د یوې ثانیې په څلورمه برخه وخت کې د دې جملې په اړه( ۱۳۱۰۰۰۰ )پایلې را وښودې. تاسو یې نوم ولیکئ، وبه ګورئ چې د زرین فرصت د ترلاسه کولو چانسونه به وي. تاسو د چرګانو د هوټل یا د ناوې د ګاڼو نمایندګي اخیستی شئ. د یوګا په ټولګي کې داخله کولای شئ. بېلابېل چلونه زده کولای شئ او د ضایعاتو په بیا تولید کې هم شریکېدای شئ. دا فرصت هم پکې و چې په هګیو کې پروټین بیا له سره ترکیبولای شئ، هره مانا یې چې وي.

تاسو ته به ډېر زیات وراندیزونه کېږي؛ خو زرین فرصت څنګه پکې موندلای شئ؟ تاسو له ځانه بهر نه ګورئ. زیاتره خلک فکر کوي چې لوی فرصتونه یې له دندې، پانګونې یا بازاره ترلاسه کړي دي؛ خو حقیقت دا دی چې ستر فرصت ځان بدلول دي. تر څو چې دننه پر خپل ځان کار ونه کړئ، تر هغو له بهرنیو فرصتونو سمه ګټه نه شئ پورته کولای.

دا داسې ده لکه څوک چې یوې لوبډلې ته په المپیک لوبه کې د بریالیتوب خبره کوي؛ خو هغه لوبډله بیخي روزل شوې نه وي. ښه خبر دا دی چې هغوی ته د بریالیتوب یو چانس ورکول کېږي او بد خبر دا دی چې هغوی ورته چمتو نه دي.

**یو شی د بل لامل کېږي**

زه فکرکوم په دې څو کلو کې چې زیاتره اجراییوي رییسانو خپل شخصیت او شرکتونه تباه کړل، لامل یې همدا خبره وه چې دوی تر واک ترلاسه کولو مخکې په ځان کې اخلاق نه وو پلي کړي. دوی د خپل کمزوري کرکټر له لاسه کمزورې پرېکړې وکړې او په هره کمزورۍ ټاکنه ستونزې ته نور هم ورښکته شول. د کرکټر ستونزه داسې ده لکه برف کوچ. سي ایس لوییس چې د یوې پوځې استعارې په کارولو په دې اړه وایي:((ښه او بد دواړه په مرکب ډول زیاتېږي. په دې خاطر زما او ستا ورځنۍ پرېکړې ډېرې زیاتې مهمې دي. تاسو چې نن کوم کوچنی ښه کار کوئ، دا ښایي په راتلونکي کې داسې ستراتېژیک ځای درته ونیسي چې له هغه ځایه به څو میاشتې وروسته داسې سترو بریاوو ته ورسېږئ چې فکر مو یې هم نه کاوه. په غوسه یا شهوت کې کوچنی بې مانا افراط د داسې لارې یا غونډې پرېښودل دي چې دښمن ته د برید کولو یوازینی ځای وي.)) ۱

مسئول کسان پر ځان دا باور کولای شي چې د اسانه شیانو پر ځای سم شیان وټاکي. که د سترو فرصتونو ترلاسه کولو وړتیا غواړئ، نو د قوي شخصیت جوړولو وړتیا لومړی پیدا کړئ. که کرکټر مو قوی شو، نو له راتلونکو ډېرو سختو حالاتو سره د مخ کېدلو او د وخت په راتګ د ډېرو چانسونو پیدا کولو وړتیا به درکړي، زه به یې پروسه داسې وړاندیز کړم:

**۱. د خپلو چارو مسئولیت واخلئ!**

د امریکا پخواني ولسمشر ودرو ویلسن ویلي:((مسئولیت د فرصت متناسب دی.)) ولې؟ ځکه مسئول کس پر ځان دا باور کولای شي چې د اسانه کار پر ځای ښه کار وټاکي. هغوی د مشهور تاریخ لیکوال ویل ډورانټ دا خبره مني چې وایي:((د خوښۍ غم مه کوه، خپله دنده وکړه.))

**دوام لري...**

# پیام د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي




پیام د لوړو زده کړو خصوصي موسسې د لومړي ځل لپاره خپلې چارې په ۱۳۹۱ لمریز کال کې پیل کړې دي. د لوړو زده کړو د دې موسسې مؤسس ښاغلی عبدالکریم منصور وایي، چې له پیل سره سم یې د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ دوه پوهنځي (اقتصاد او حقوق او سیاسي علوم) درلودل، محصلین یې ورته جذب کړل او عملاً یې په دې برخه ګې فعالیت پیل کړ. ښاغلی منصور وایي، اوسمهال پیام د لوړو زده کړو خصوصي موسسه درې پوهنځي (حقوق او سیاسي علوم، اقتصاد او شرعیات.) لري. دی وایي چې د څلورم پوهنځي چې هغه کمپیوټر ساینس دی د منظورۍ کارونه یې هم بشپړ کړي او په نږدې راتلونکي کې به په رسمي ډول دغه پوهنځی هم د موسسې په چوکاټ کې ور زیات کړي او محصلین به ورته جذب کړي.

په پیام د لوړو زده کړو موسسه کې اوسمهال د ۱۰۵۰ په شاوخوا کې محصلین په دریو پوهنځیو کې پر لوړو زده کړو بوخت دي. ښاغلی عبدالکریم منصور وایي، چې د محصلینو په دې ډله کې شل سلنه یې ښځینه او پاتې اتیا سلنه نارینه دي. د ښاغلي منصور په خبره، په روانه اونۍ کې یې اوومه دوره محصلین فارغېږي. دی وایي، دوی په اقتصاد او شرعیاتو پوهنځي کې د څوارلسم پاسو محصلینو د جذب اجازه هم لري، نو له همدې کبله یې تر اوسه پورې په څه باندې اوو کلونو کې اووه دورې محصلین فارغ کړي دي. نوموړی زیاتوي چې تر اوسه پورې یې د اتو سوو کسانو په شاوخوا کې محصلین له خپلو فعالو پوهنځیو څخه د لېسانس په کچه فارغ کړي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. ښاغلی منصور وایي چې ډېری محصلین یې په مرکز او د هېواد په ولایتونو کې په بېلابېلو دولتي او غیر دولتي ادارو کې پر کار بوخت دي.

د پیام د لوړو زده کړو خصوصي موسسې، مؤسس ښاغلی عبدالکریم منصور وایي، چې هر کال یې د جذب کچه توپیر کوي، ځکه دغه څه د هېواد په امنیتي او اقتصادي وضعیت پورې تړلې خبره ده. هغه وایي، دوی په کال کې دوه ځله د کانکور اخیستو اجازه لري او په هر ځل له ۳۰۰ تر ۵۰۰ کسانو څخه د کانکور ازموینه اخلي، چې له ډلې یې نږدې د ۴۰۰ په شاوخوا کې نوي محصلین جذبوي.

ښاغلی عبدالکریم منصور وایي چې د هېواد اقتصادي وضعیت ته په کتو، دوی هر کال خپلو محصلینو ته ځانګړی تخفیف ورکوي، څو وکولای شي خپلو لوړو زده کړو ته ادامه ورکړي. دی وایي، په ۱۳۹۶ لمریز کال کې یې نږدې ۱۵۷ محصلینو ته په ۹۰ سلنه تخفیف په پیام د لوړو زده کړو موسسه کې د زده کړو زمینه برابره کړه او دوی ته یې دغه تخفیف د پوره تحصیلي دورې لپاره ورکړی و. هغه وایي چې پیام د لوړو زده کړو خصوصي موسسه، د خصوصي پوهنتونونو په کتار کې لومړنۍ هغه ده چې محصلینو ته د زده کړو په برخه کې د پام وړ تخفیف ورکوي. د دې تر څنګ، د لوړو زده کړو دغه موسسه د خپلو محصلینو لپاره څلوېښت، پنځوس، شپېته او اویا سلنه تخفیفونه هم لري.

پیام د لوړو زده کړو موسسه د مناسب موقعیت تر څنګ، د خپلو محصلینو لپاره مجهز کتابتون لري، چې په دغه کتابتون کې ډېر بېلابېل کتابونه موجود دي او محصلین کولای شي له دغه کتابتون څخه د خپلې مطالعې او څېړنې لپاره ګټه واخلي. ښاغلی منصور وایي چې د کتابتون تر څنګ دغه موسسه د خپلو محصلینو لپاره کمپیوټر لب لري، چې په انټرنېټ هم سمبال دی. دی وایي، کمپیوټر لب یې څلورویشت ساعته د خپلو محصلینو او استادانو په واک کې ورکړی دی، څو وکولای شي له انټرنېټ څخه یې ګټه واخلي. پیام د لوړو زده کړو موسسه کې د تدریس چارې د ځینو فعالو او تجربه لرونکو استادانو له خوا مخ ته وړل کېږي چې د دوکتورا او ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري او په اړونده برخه کې د تدریس له کافي تجربې څخه برخمن دي.

د لوړو زده کړو دغه موسسه تر اوسه پورې له کوم بهرني پوهنتون سره د علمي اړیکو کومه هوکړه نه لري، خو ښاغلی عبدالکریم منصور وایي، چې هڅه کوي، د لوړو زده کړو وزارت د قوانینو په چوکاټ کې له ځینو بهرنیو پوهنتونونو سره د علمي اړیکو هوکړې لاسلیک کړي چې له مخې یې وکولای شي خپل محصلین او استادان د لا نورو لوړو زده کړو، تجربې تر لاسه کولو او وړتیاوو لوړولو لپاره دغو پوهنتونونو ته ور واستوي او له تجربو یې ګټه واخلي. دی وایي چې په کور د ننه له دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره ښې او نیکې اړیکې لري، چې ښه بېلګه یې څو میاشتې مخکې د (د خصوصي پوهنتونونو د ارتقاع ظرفیت) په نوم د یوه- دوه ورځني کنفرانس جوړول وو، چې د پیام د لوړو زده کړو خصوصي موسسې له خوا جوړ شوی و او نږدې د څوارلس خصوصي پوهنتونونو استازو پکې ګډون کړی و. په دغه موسسه کې د ورځې درې وخته تدریس کېږي او محصلین د زده کړو لپاره ورځي.

ښاغلی منصور وایي، کله چې محصل خپله د لېسانس دوره پای ته رسوي، نو اړ دی چې په اړونده برخه کې مونوګراف ولیکي او له خپل مونو ګراف څخه دفاع وکړي. دی وایي، له دفاع څه وروسته د محصل څلور کلنې نمرې د مونوګراف له یوې کاپي سره لوړو زده کړو وزارت ته استول کېږي، چې تر ارزونې وروسته محصلینو ته د نمرو ټرانسکرېپ او د لوړو زده کړو وزارت له لوري تایید شوې تصدیق پاڼه ورکول کېږي او محصلین کولای شي له دې تحصیلي اسنادو څخه د دندې په پیدا کولو او یا هم نورو لوړو زده کړو په برخه کې ترې ګټه واخلي. خو دا چې خصوصي پوهنتونونو ته په خپل نوبت د ډیپلومونو د وېش لړۍ پیلېږي، نو تر اوسه پورې یې فارغ شویو محصلینو ته ډیپلومونه نه دي ورکړي، خو هڅه کوي چې کله ورته د ډیپلومونو د وېش وار ورسېږي، فارغ شویو محصلینو ته به ډیپلومونه هم ورکړي.

په پیام د لوړو زده کړو خصوصي موسسه کې د نظري زده کړو تر څنګ، محصلینو ته د علمي زده کړو زمینه هم برابرېږي. ښاغلی منصور وایي چې د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي محصلینو ته وخت ناوخت تمثیلي محکمې جوړوي، چې محصلین او مېلمانه یې د تمثیلي محکمو له کار څخه خورا خوښ دي. د دې تر څنګ، دوی هڅه کوي چې د نورو پوهنځیو د محصلینو لپاره هم د عملي کار زمینه برابره کړي، څو یې په اړونده برخه کې تجربه او وړتیا لوړه شي. نوموړی وایي، د محصلینو لپاره د ورکشاپونو او سیمینارونو جوړول هم د دوی له لومړیتوبونو څخه دي.

د پیام د لوړو زده کړو موسسې، مؤسس ښاغلی عبدالکریم منصور وایي، چې د لوړو زده کړو وزارت له لوري د کیفیت د تضمین چې درې پړاونه لري، لومړنی پړاو یې په پوره بریالیتوب سره تېر کړی دی او هیلمن دی چې له دوو نورو پړاونو څخه به بریالیتوب را ووځي، نو له هغه وروسته به د نویو پوهنځیو په تاسیس لاس پورې کوي. له موسسې څخه به پوهنتون ته ارتقاع کوي او هڅه به یې دا وي چې په کور د ننه او سیمه ییزه کچه اعتبار خپل کړي او تر څنګ یې د ماسټرۍ پروګرام هم پیل کړي.

ښاغلی منصور وایي، د افغانستان امنیتي او اقتصادي وضعیت ته په کتو، موږ ټول په ډېری برخو کې ستونزې لرو، خو له ځینو څخه یې بیا داسې یادونه کوي: (پوهنتون باید څلورویشت ساعته برېښنا ولري، چې دوی یې نه لري او په کومو ساعتونو کې چې برېښنا لري هم، په لوړه بیه ور باندې پلورل کېږي. دی وایي، مالیې وزارت له یوه تولیدي شرکت او پوهنتون څخه په یوه کچه مالیه اخلي، په داسې حال کې چې تولیدي شرکتونه سل سلنه ګټه کوي، خو پوهنتونونه د یو څه ګټې تر څنګ، د هېواد په ابادۍ کې برخه اخلي، د خلکو بچیان روزي او په دې برخه کې ډېر لګښت کوي. ښاغلی منصور وایي، پر زده کړو پانګونه د هېواد پر روښانه راتلونکې باندې پانګونه ده او له پوهې پرته موږ هېڅ کله دایمي سولې او ثبات ته نه شو رسېدلی.»

د خصوصي پوهنتونونو اتحادیه له لوړو زده کړو وزارت او په ټوله کې له افغان حکومت څخه غواړي چې خصوصي پوهنتونونو ته د متوازن پرمختګ زمینه برابره کړي، څو هم دغه پوهنتونونه پر خپلو پښو ودرېږي او هم پر کار پوه، مسلکي او هېوادپال کسان وروزي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٦,٧٠ |
| € | ٨٣,٨٠ |
| Rp. | ٤٩٦ |
| ₹ | ١٠٩٠ |
| ¥ | ١١ |
| £ | ٩٩ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

**Kam Air**

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

**flydubai**

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# تشخیص اضطراب اجتماعی در کارمندان و نحوه حمایت از آنها

ترجمه: بیژن صدیقی

کارمندی را در نظر بگیرید که درست به‌هنگام فرارسیدن موعد سخنرانی خود، تماس می‌گیرد و به‌خاطر بیماری درخواست مرخصی می‌کند؛ یا کارمندی که همیشه ایده‌هایی عالی و کارآمد در ذهن دارد، اما قادر به بیانشان نیست و فقط از طریق فرستادن ایمیل یا پیام می‌تواند ایده‌هایش را مطرح کند. چنین کسانی دچار اضطراب اجتماعی هستند. اختلالی که در اصطلاح عامیانه، به آن خجالتی بودن می‌گوییم. در این مطلب می‌خواهیم ببینیم چطور می‌شود پی برد که شخصی دچار اضطراب اجتماعی است یا خیر. در برخورد با چنین افرادی چه رویکرد و رفتاری باید پیش بگیریم؟ و دست آخر اینکه چه کارهایی از دستمان بر می‌آید تا کمک‌حال آن‌ها باشیم و از شان حمایت کنیم؟ پس با این مطلب همراه ما باشید.

**اختلال اضطراب اجتماعی**

در مقام کارفرما، به‌احتمال زیاد با کارکنانی سروکار دارید که دچار اضطراب اجتماعی هستند. باید بدانید که نه شما و نه آن‌ها تنها نیستید. بر اساس تحقیقات انجام‌شده در ایران، بین ۵۸ تا ۷۵ درصد از مردم، در موقعیت‌های گوناگون (قرارگرفتن در جمعی از افراد غریبه، برخورد با جنس مخالف و ...) خجالت زده می‌شوند. خجالت زدگی در واقع به همان اضطراب اجتماعی اشاره می‌کند و اصطلاح عامیانه آن است.

شماری کمتری از مردم هم هستند (بین ۱۲ تا ۱۸ درصد) که در برهه‌ای از زندگی، از لحاظ روحی و روانی در شرایطی قرار می‌گیرند که نشانه‌هایی از اضطراب اجتماعی بروز می‌دهند: به این معنا که اختلال، مانع پیشرفت و سد راه‌شان می‌شود. (مثلاً، کسی که ترفیع گرفتن در شغلش را، فقط به این خاطر که باید مدیریت عده‌ای را به عهده بگیرد، نمی‌پذیرد.) یا آنکه زمینه ابتلا به ناراحتی مزمن و آزاردهنده‌ای را فراهم می‌کند (مانند کسی که با فرارسیدن موعد جلسه بازبینی سالیانه اوضاع شرکت، تا یک هفته پیش از آن دچار دل‌درد و بی خوابی می‌شود).

واقعیت آن است که اضطراب اجتماعی سومین اختلال روان‌شناختی رایج شناخته‌شده است. افسردگی و سوءمصرف نوشیدنی‌های الکولی به‌ترتیب رتبه‌های اول و دوم را به خود اختصاص داده‌اند.

جالب آنکه میان اضطراب اجتماعی و داشتن کارایی برجسته و ایدئال در محیط



کار، غالباً همبستگی چشمگیری دیده می‌شود. مبتلایان به این اختلال اغلب معیارهایی کمال‌گرایانه برای کارشان دارند و متعهد به انجام بی‌عیب‌ونقص کارشان هستند.

همچنین می‌توان برای درمان این اختلال اقدام کرد؛ بدون آنکه کاستی یا افولی در ویژگی‌های برجسته مبتلایان به آن در محیط کاری دیده شود.

**چطور می‌توانیم کارکنانی را که دچار اضطراب اجتماعی هستند، شناسایی کنیم؟**

اینکه آیا واقعاً کارمندی به اضطراب اجتماعی مبتلا باشد یا خیر، همیشه هم روشن و قابل‌تشخیص نیست. اختلال ممکن است خود را در قالب رفتار کارمندی نشان بدهد، که برای سخنرانی در جمع دچار تشویش و دلهره می‌شود. همچنین ممکن است اوضاع کمی پیچیده‌تر و برخلاف چیزی باشد که معمولاً انتظار داریم. مثلاً، کارمند مبتلا به اضطراب اجتماعی به‌شکلی مسحورکننده سخنرانی‌اش را ادا می‌کند، اما زمان پرسش‌وپاسخ که می‌رسد، دست‌وپایش را گم می‌کند. کارمند مبتلا به این اختلال، ممکن است در اظهارنظر همراه با قطعیت و اعتماد به نفس و ارائه بازخورد مؤثر و سازنده به مشکل بربخورد و درعین‌حال کارمند دیگری که دچار همین اضطراب اجتماعی است، شاید کمتر میلی به شرکت در جمع و گفت‌وگوها نشان بدهد و تقریباً تا پایان مهلت تحویل پروژه کاری، بازخوردهای دیگران را از آن‌ها جویا نشود.

با این اوصاف می‌توان دید که گاهی تشخیص اضطراب اجتماعی چالش‌برانگیز و دشوار می‌شود.

**آیا صحبت کردن از اضطراب اجتماعی، با کسانی که دچار آن هستند، درست است؟**

یکی از پرسش‌های رایج در میان کارفرمایانی که با مبتلایان به این اختلال سروکار دارند و می‌خواهند به آن‌ها کمک کنند، این است که آیا باید از رفتاری که توجه‌شان را جلب کرده است، سخنی به میان بیاورند یا خیر؟ و اینکه اساساً به‌زبان‌آوردن الگوهای رایج رفتاری این اشخاص کار شایسته‌ای است؟ در پاسخ باید گفت که سخن‌گفتن در این مورد تنها زمانی جایز است که خجالت‌زدگی یا همان اضطراب اجتماعی، سد راه پیشرفت شغلی شخص مبتلا باشد؛ یا از سوی دیگر، بر دیگر کارکنان اثرات منفی گذاشته باشد.

نباید دیگران را وادار کنیم بر باور و دیدگاه‌مان از رفتار «معمولی یا بهنجار»، صحه بگذارند و پیرو دیدگاه ما باشند. در محیط‌های کاری، افراد درون‌گرایی میان ما هستند که برای تمرکز کردن، هدفون روی گوش‌شان می‌گذارند؛ ترجیح می‌دهند به‌جای آنکه با دیگران به سالن غذاخوری بروند، همان‌جا روی میز کارشان ناهار بخورند و تجدید انرژی کنند؛ یا در دورهمی‌های هفتگی کارکنان، نیم‌ساعتی حضور پیدا می‌کنند، خودی نشان می‌دهند و مجلس را ترک می‌کنند. بهتر است از کمک به این افراد دریغ نکنیم و پشتیبان آن‌ها باشیم. کوتاه‌سخن آنکه رویکرد شایسته این است که پذیرای انواع تیپ های شخصیتی و سبک‌های کاری در محیط کار باشیم.

**زمان و شرایط مناسب برای صحبت با کارمندتان درباره اضطراب اجتماعی**

اما اگر به این موضوع پی برده‌اید که اضطراب اجتماعی کارمندتان، روند معمول کاری‌اش را مختل کرده و بر آن اثر منفی گذاشته است، زمان آن است که با او صحبت کنید. موضوع صحبت نباید درباره موضوعات خصوصی مرتبط با وضعیت سلامتی شخص موردنظر باشد؛ اما خوشبختانه نیازی هم به اشاره به چنین موضوعات کلی‌ای نخواهید داشت (منظور از موضوعات کلی آن‌هایی است که به‌باور عامه مردم عامل اضطراب اجتماعی هستند).

به‌جای این کار، می‌توانید درمورد آن دسته از وظایف و رفتارهای ویژه‌ای پرس‌وجو کنید که فرصت پیشرفت‌کردن در آن‌ها را دارد؛ کارهایی مانند سپردن قسمتی از وظایف به دیگری، سخنرانی در معرض عموم، ارتباط داخلی با اعضای تیم کاری، ارائه بازخورد سازنده، یا مدیریت زمان (به تعویق انداختن کارها و داشتن وسواس بیش‌ازحد روی نتیجه نهایی کار ارتباط تنگاتنگی با اضطراب اجتماعی دارند).

وظیفه یا رفتار موردبحث هرچه باشد، به‌جای سرزنش کردن با درنظرگرفتن جنبه مثبت موضوع صحبت کنید. به کارمندتان نشان بدهید که هم او و هم مسیر شغلی او برایتان مهم است. «توجهی که به جزئیات این گزارش‌ها نشون می‌دی، واقعاً جای تقدیر داره. می‌دانم که ترجیح می‌دی کارها رو تمام‌وکمال و بی‌عیب‌ونقص انجام بدی، اما وقتی توی مسیر شغلیت پیشرفت کنی و ترفیع بگیری، زمان کمتری خواهی داشت. این شد که تصمیم گرفتم با هم‌فکری همدیگه، ببینیم چطور میشه برای مرحله بعدی کار آماده شد».

**چطور می‌توانیم از کارکنانی که دچار اضطراب اجتماعی هستند حمایت کنیم؟**

با شما درباره اضطراب اجتماعی‌اش صحبت به میان آورد، در مقام کارفرمای او، می‌توانید کارهایی برای حمایت از او انجام دهید. در ادامه مطلب این کارها را بررسی می کنیم.

**حمایتگر آن‌ها باشید**

وقتی کارمندی (یا حتی دوستی یا یکی از اعضای خانواده، تفاوتی نمی‌کند) آشکارا از اضطراب اجتماعی‌اش سخن می گوید، بیشتر ما می کوشیم شرایط را با خواسته‌های آن‌ها مطابقت دهیم و این در حقیقت واکنش رایج و معمول در چنین شرایطی است. مشتاق آن هستیم که در نقش محافظ آن‌ها پدیدار شویم: اجازه می‌دهیم به‌جای شرکت در همایش، در خانه بمانند، سخنرانی‌شان را ارائه نکنند، یا در جلسه آموزشی شرکت نکنند.

با آنکه این رویکرد، یعنی هماهنگ‌کردن شرایط با خواسته‌های کارکنان خجالتی، در کوتاه‌مدت ممکن است اثربخش باشد، در بلندمدت توانمندسازی چنین کارمندی را دشوار می‌کند؛ چراکه میان این دو رویکرد تطبیق‌دهی و توانمندسازی کارمندان، مرزی باریک و نامحسوس وجود دارد. کناره‌گیری یا طفره‌رفتن عامل شاخ‌وبرگ پیداکردن اضطراب اجتماعی و دوام‌یافتن آن است؛ پس اگر بتوانیم به چنین کسانی کمک کنیم با ترس‌هایشان روبه‌رو شوند (البته بدون آنکه تحت‌فشار قرار گیرند)، بهتر از آن است که مدام اجازه دهیم کناره بگیرند. این رویکرد دوم اثربخشی بیشتری خواهد داشت.

## ملګري ملتونه: د نویو ولایتونو لپاره د والیانو معرفي کول د اندېښنې وړ دي

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر یا یوناما د عبدالله عبدالله له خوا د ځینو ولایتونو لپاره په زور د والیانو پر ټاکلو باندې ژوره اندېښنه ښودلې ده.

دا په داسې حال کې ده چې د ثبات او همپالنې ټاکنیز ټیم کاندید عبدالله عبدالله تېره ورځ د ځینو ولایتونو لپاره د خپل ټیم له اړخه نوي والیان معرفي کړل.

خو په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي استازولۍ ویلي چې یاد کار به د سولې په اړه روانې هڅې له ستونزو سره مخ کړي.

یوناما په یوه اعلامیه کې ویلي: «په داسې حال کې چې د تاوتریخوالي د کمولو لپاره هڅې روانې دي او دا تمه کېږي چې دا به بین الافغاني مذاکراتو ته زمینه برابره کړي، له زوره کار اخیستل او غیر قانوني



کړنې کولای شي چې د خلکو هغه هیلې چې د سولې په اړه دي، له اندېښنې سره مخ کړي.»

یوناما دغه راز پر ټولو اړخونو غږ کړی چې خپلې ستونزې د خبرو اترو له لارې حل کړي او د افغانستان د اساسي قانون ته احترام وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د عبدالله عبدالله سلاکار میرویس سیغاني تېره ورځ رسنیو ته وویل چې د عبدالله عبدالله له خوا د سرپل ولایت لپاره نوی والی معرفي شوی دی. بلخوا د پنجشیر والي کمال الدین نظامي هم په یوه اعلامیه کې د عبدالله عبدالله په مشرۍ له ټول شموله حکومت څخه خپل ملاتړ اعلان کړی دی.

په ورته وخت کې محمد نور رحماني د جنرال عبدالرشید دوستم په مشرۍ د جنبش اسلامي ګوند د غړو له خوا د سرپل ولایت په مقام کې د نوي والي په توګه معرفي شوی دی.

محمد نور رحماني د سرپل ولایت د ولایتي شورا مخکینی مشر و او د جنرال دوستم له نږدې کسانو څخه دی. د یادونې ده چې تر دې وړاندې جنرال دوستم ګواښ کړی و، که ټاکنې د دولت جوړوونکي ټیم په ګټه تمامې شي، موازي حکومت به اعلان کړي.

دغه راز د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره بیا د ثبات او همپالنې ټاکنیز ټیم دغه موازي اقدام بې ارزښته بولي.

د دې ادارې ویاند سید شاه سقیم امریکا غږ ته ویلي چې د سیمه ییزو ارګانونو ادارې په وړاندیز او د ولسمشر له خوا ټاکل شوی والي پر خپل ځای دی او خپلې چارې مخته وړي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily



وایگل چاپ
WAYGAL PRINTING CO
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



یکشنبه د ۱۳۹۸ د کب خلورمه | د ۲۰۲۰ د فبروري ۲۳مه | ۵۱۸مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | ۲۲ | ۲۳ | ۲۲ | ۲٤ | ۲۲ |
| ۱ | ۸ | ۸ | ۱۱ | ۱۰ | ۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۸ | لمر ختل ۰۶:۳۲ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیگر ۰۳:۱۷ | ماښام ۰۵:۴۳ | ماخوستن ۰۷:۰۷

## فیروز: برای پیشگیری از انتقال ویروس کرونا، در ولایات هم مرز با ایران، تدابیر جدی اتخاذ شده است



وزیر صحت عامه برای پیشگیری از ویروس کرونا، به رؤسای صحت عامه ولایات هم مرز با ایران، هدایت داده است که روی تجهیز بیشتر مراکز صحی در پیوند به کیت‌های محافظتی، موادهای ضدعفونی کننده و دیگر ضرویات اولیه توجه جدی نمایند.

در صفحهٔ فیسبوک وزارت صحت عامه، آمده است که داکتر فیروزالدین وزیر صحت عامهٔ کشور، با رؤسای صحت عامه ولایت‌های هرات، فراه، نیمروز و کندهار، از طریق ویدیوکنفرانس گفتگو نموده و تدابیر جدی را که از سوی آنان برای پیشگیری از این ویروس گرفته شده، مورد ارزیابی قرار داده است.

منبع نوشته است که رؤسای صحت عامه ولایت های هرات، فراه، نیمروز و کندهار، از تدابیر گرفته شده با توظیف تیم های صحی در میدان های هوایی، مرزها، بنادر، تهیه بسترهای ویژه و برنامه‌های آگاهی دهی برای پیش گیری و کنترول این ویروس، به وزیر صحت عامه اطمینان دادند.

داکتر فیروز گفته است که از تلاش‌های آنان قدردانی نموده و برای آنان هدایت داد تا تیم های سکرینینگ را بیشتر تقویت نمایند، برنامه های آگاهی دهی را در پیوند به اعراض و علایم این ویروس برای کارمندان صحی و مردم افزایش دهند و از قاچاق ماسک به بیرون از کشور، جلوگیری نمایند.

این درحالیست که بر اساس گزارش‌ها، وزارت صحت عامهٔ ایران گفته است که شمار مبتلایان این بیماری در آن کشور، به ۲۸ تن رسیده و تا کنون پنج تن از اثر ابتلا به این بیماری جان باخته اند.

## نړۍ




۳


## د مالي اقداماتو ځانګړې ډله: د پاکستان نوم به څلور نورې میاشتې هم په خړ لیست کې وي

د مالي اقداماتو ځانګړې ډلې یا FATF پاکستان ته څلور میاشتې نور هم وخت ورکړی چې که له ترهګرو ډلو سره خپلې مرستې بندې نه کړي او د دوی معیارونه پوره نه کړي، له خړ لیست څخه به یې نوم ونه ایستل شي.

د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، پاکستان په دې وروستیو کې هڅه پیل کړې وه چې د یاد بنسټ له خړ لیست څخه د خپل هېواد نوم وباسي، خو د سرچینې په خبره، پاکستان لاهم د دغه بنسټ معیارونه نه دي پوره کړي او د څلورو نورو میاشتو لپاره به د دغه هېواد نوم په خړ لیست کې شامل وي. رویټرز ویلي چې د FATF چارواکو پاکستان ته خبرداری ورکړی چې که په یاده موده کې د دوی معیارونه پوره نه شي او له ترهګرو ډلو د دغه هېواد ملاتړ دوام وکړي، پر نورو اقداماتو به لاس پورې کړي.

د یاد بنسټ په اعلامیه کې راغلي: «د پاکستان نوم به څلور میاشتې نور هم په خړ لیست کې وي، د دغه هېواد چارواکي مور ته باید ډاډ راکړي چې مالي سیستم یې د ترهګرو له ملاتړ لرې دی. که پاکستان بیا هم په دې کې پاتې راشي، په راتلونکي کې به یې په اړه نور اقدامات هم وشي.»

## امریکا: د ناټو د یو متحد په توګه په سوریه کې د ترکیې ملاتړ کوو



د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د سوریې په ادلیب کې د ترکي سرتېرو پر وژل کېدو د خواشینی د څرګندولو تر څنګ اعلان کړی، چې د ناټو د یو متحد په توګه به په سوریه کې د ترکي ځواکونو ملاتړ وکړي.


د ترکیې د اناتولي خبري اژانس د خبر له مخې، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت یو چارواکي ویلي، دوی په سوریه کې د ترکي سرتېرو ملاتړ ته چمتو دي. هغه زیاته کړې، ترکي سرتېري په ادلیب کې د تروریزم ضد مبارزې لپاره ځای پر ځای شوي او دوی ژمن دي چې په داسې حالاتو کې د ترکیې ملاتړ وکړي.

د یادونې ده چې تر دې وړاندې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ترکیې له ولسمشر رجب طیب اردوغان سره په ټلیفوني خبرو کې ویلي وو چې په ادلیب کې روان وضعیت اندېښمن کړی دی او دی له روسیې غواړي چې د بشارالاسد له ملاتړه لاس واخلي. نوموړي دغه راز د سوریې د کړکېچ پر سیاسي حل هم ټینګار کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د سوریې په شمال کې د سوري او ترکي ځواکونو تر منځ د سختو نښتو راپورونه خپاره شوي چې دواړو لورو ته پکې درنه مرګ ژوبله اوښتې ده.

## ژوند

## سختي مو د فکر ژورو ته بیایي




تېره شپه مې د جي فاکس (د امریکایي سینما یو لوبغاړی دی) ټلوېزیوني مصاحبه کتله چې له ان بي سي له شبکې څخه نشرېده. کېدای شي پوه وی چې نوموړی د پارکینسون ناروغي لري. دا ناروغي کولای شي چې د ډېرو ژوند واخلي، مګر د جي فاکس نه. نوموړي وویل چې دې ناروغۍ ورته خیر او برکت راوړی او د دې لامل شوې څو د ژوند له ټیټو سطحو څخه را ووځي او لویې لاسته راوړنې ولري، لکه علم، درک، فهم، له ژوند او خلکو سره مینه. یو لوی فکر: په ژوند کې د دردوونکو مسایلو تجربه هغه با ارزښته فرصت دی چې کولای شو خپلو لوړو هیلو ته ورسېږو. ستونزې او سختۍ موږ د فکر ژورو ته بیایي، بې مانا شیان یوې خوا ته کېږي او وینښېږو څو ووینو چې کوم موضوعات ارزښتمن دي، ځینې موضوعات لکه کورنۍ، ملګري، اړیکې او دا چې د نړۍ لپاره ښه او غوره و اوسو. موږ ته را زده کوي چې هره ورځ د خلکو له لوري له ډالیو څخه خوند واخلو .

## دغه خواړه د غاښونو لپاره ګټور دي

غاښونه د انسان د بدن اساسي برخه جوړوي. ښکلي غاښونه موسکا ښکلې کوي. روغ غاښونه انسان ته جسمي قوت ښيي او انسان د توانايۍ احساس کوي. برعکس، که غاښونه مو جوړ نه وي، نو له دې ښکاري چې جسمي او ان رواني وضعیت مو ښه نه دی. د غاښونو اهمیت ته په کتو، ډېر خلک د خپلو غاښونو ساتنه کوي. خپل غاښونه بورس کوي او وخت ناوخت مسواک کاروي. خو پر دې سربېره، دلته ځینې نورې ساده لارې هم شته چې انسان پرې د خپلو غاښونو ښه ساتنه کولای شي.

**اوبه:** اوبه د انسان د وجود د سلامتیا لپاره نه بېلېدونکی څیز دی. هر وخت له خوراک او څښاک وروسته، په خپله خوله اوبه تېرې کړئ. دا چاره ستاسې غاښونه پاک ساتي.



**لبنیات:** شیدې، کورت، پنیر او نور لبنیات د غاښونو لپاره ډېر ګټور دي.

**تازه مېوې او سبزي:** هغه مېوې او سبزیجات چې جوس لرونکې وي، لکه بادرنګ، هندوانه، مڼه، ناک او ځینې نور د غاښونو لپاره مهم دي.

**زړي:** چهارمغز، بادام او جنغوزي په زیاته اندازه ویټامینونه، منرالونه، کلسیم، اوسپنه، پوتاشیم او زینک لري. دا هم د غاښونو د سلامتیا لپاره ډېر اړین دي.


### ماسټر ډبټ کارټ

د عزیزي بانک ماسټر ډبټ کارټ له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.



عزیزي بانک
Azizi Bank
www.azizibank.af
1515